**اې مسلمانانو! تاسو په غزه، رفح او ان ټول فلسطين کې د يهودو جنايتونه وينئ؛ حاکمان مو يو پوځ هم د هغوی مرستې ته نه استوي؛ ان خپلې سرې کرښې يې تر پښو لاندې او هېرې کړې دي او د امريکا او د هغوی د پيروانو په منځګړيتوب يې بسنه کړې ده!**

(ژباړه)

**اې مسلمانانو!**

خبره له صبر څخه تېره ده ... پر انسانانو، ونو او کاڼو د يهوديانو ظلم روان او له حسابه وتلی دی! له دې سره سره يې پر رفح بريد وکړ چې د مصر رژيم سره کرښه ګڼله او د تيري پر وړاندې يې چوپ نه پاتې کېده؛ خو تر هغه وروسته چې دا ځای يهودو اشغال کړ، سره کرښه يې شنه شوه او د مصر رژيم پر نيوکې بسنه وکړه! (سرچينه: الجزيره عاجل – ۲۰۲۴/۵/۱۲) اسوشيټېډ پرس د يوه مصري چارواکي په حواله راپور ورکړی: «مصر پر رفح د بريد په هکله خپله نيوکه تل‌اويو، واشنګټن او اروپايي دولتونو ته تسليم کړه.» العربية الحدث د ۲۰۲۴ د مې په ۷مه راپور ورکړی چې: «د مصر د دفاعي ځواکونو د پخواني وزير مرستيال، علي حفيزي العربيه نېټ او الحدث نېټ ته په خپلو خبرو کې ويلي چې محور د مصر او غزې تر منځ سيمه، فيلاډلفيا ده. هغه ټينګار وکړ چې د مصر سرحدي ځواکونه په لوړه کچه امنيت ټينګوي او هېڅ اسرايلي ځواک هغې ته نږدې کېدای نشي، ځکه هغه سره کرښه ده...»

د اسرايلو پوځ سه شنبه اعلان وکړ چې د رفح سيمې – چې غزه تړانګه له مصره بېلوي – د فلسطين لوري کنټرول يې له پرون راهيسې پيل شوو عملياتو کې خپل کړ... او د اسرايلو نظامي وسايط له ۲۰۰۵ کال راهيسې د لومړي ځل لپاره د فيلاډيلفيا سيمې ته ننوتل؛ دغه راز سه شنبه د غزې او مصر تر منځ رفح سيمې ته نيږدې د اسرايلو د توپونو د بريدونو له شدت سره تور دودونه پورته شول.

**اې مسلمانانو!**

دردوونکې او غمـوونکې ده چې غرب په ځانګړې توګه امريکا د اسلامي خاورو د حاکمانو مشري کوي؛ امريکا د يهودي رژيم پر شاوخوا دولتونو تمرکز کوي او نه غواړي چې  پوځونه يې مداخله وکړي؛ امريکا خپله دا موخه «د جګړې نه پراخولو» خبره کې اعلانوي! امريکا د يهودي رژيم سستي او کمزوري ښه درک کوي؛ ځکه چې د دغه رژيم له جنايتونو اته مياشتې تېرې شوې او تر اوسه يې موخې ته نه دی رسېدلی؛ که څه هم پر وړاندې يې د مومنانو يوه کوچنۍ ډله ده چې تجهيزات يې خورا کم دي. نو که د مسلمانانو پوځونه او يا يوازې د فلسطين شاوخوا مسلمان پوځونه مداخله وکړي، حالت به څنګه وي! دا هغه څه دي چې د امريکا خوب يې تښتولی ...

له دې امله د امريکا چارواکي په سيمه کې ګرځي ترڅو پر حاکمانو د فشار له لارې يا له فشار پرته د فلسطين خلکو ته د دغو پوځونو د نصرت مخنيوی وکړي! هغوی له نن څخه نه بلکې له ۱۹۴۸م کال راهيسې، چې فلسطين يهودو اشغال کړ، د فلسطين له ازادۍ لاس واخيست! هرڅوک چې د غربي چارواکو په ځانګړې توګه د امريکا سفرونه وڅېړي، وينې چې موخه يې همدا ده. سيمې ته د امريکا د بهرنيو چارو وزير بلينکين سفرونه هم په همدې سبب خوار ډېر دي. امريکا پر دې بسنه ونکړه؛ بلکې د استخباراتو رئيس ويليام برنز يې سيمې ته واستاوه چې څو ورځې له سيمې ليدنه وکړي او سفر يې پر مصر او يهودي رژيم متمرکز

کړي. دغه سفرونه قطر ته هم وي، موخه يې د مصر او يهودي رژيم پر اړيکو، په ځانګړې توګه د رفح په مسله کې، تمرکز وي. په پايله کې هغه څه چې العربي جديد شبکې د ۲۰۲۴ د مې په ۸مه خپاره کړي وو، د غور او تأمل وړ کېدی شي:

«پټو سرچينو العربي الجديد ته ويلي وو چې پر رفح برید او فیلاډلفیا او یا د فلسطین له لوري رفح یا د مصر دروازې ته د اشغالګر يهودي پوځ د ټانکونو ننوتل له امريکا سره په بشپړې همغږۍ ترسره شوي دي... سرچينې ويلي: «د امريکا د استخباراتو مشر، ويليام برنز د موساد له مشر، ډيوېډ بارنيا سره عمليات تنظيم کړل او د هغه او نتنياهو ترمنځ د ټليفوني اړيکې په ترڅ کې يې د دغو عملياتو پر محدوديت ټينګار وکړ.»

وروسته امريکا داسې کار وکړ چې د ځينو حاکمانو او رسنيو لخوا وهڅول شوه؛ هغه دا چې د امريکا او يهودي رژيم تر منځ اختلاف و چې په دې کې د امريکايي وسلو کارول د قانون خلاف دي. بلينکين دا په پيچلې اسلوب او مکارۍ وويل خو د عقل له خاوندانو پټه نه ده؛ کانګرس ته د هغه له لوري وړاندې شوي راپور کې راغلي:

[الخليج ورځپاڼه ۲۰۲۴/۵/۱۱، واشنګتن – AFP-: « د امريکا د بهرنيو چارو وزارت جمعه په يوه راپور کې د اسرايلو لخوا د امريکايي وسلو پر کارونې نيوکه وکړه؛ **خو کافي معلومات يې پيدا نه کړل چې لېږدول يې بند کړي.**» په راپور کې راغلي: «د دې لپاره د اسرايلو ارزونه چې د نړيوالو بشري قوانينو په خلافو تګلارو يې له وسلو څخه کار اخيستی، منطقي ده، **خو امريکا پرېکنده پرېکړو ته ونه رسېده...»**. راپور زياتوي: «که څه هم امريکا په دې اند ده چې اسرايل د خپلو ګامونو له لارې په انساني ناورين کې دوامداره رول درلود، **خو نه مني چې اسرايلي چارواکو دې د دغو مرستو له لېږد څخه په عمدي توګه مخنيوی کړی وي او يا يې محدود کړي وي...** او داسې نور»]

ښکاره ده چې امريکا د الفاظو په کارونې سره خپلې لوبې ته دوام ورکوي! موخه يې د يهوديانو مرسته او د اسلامي خاورو د حاکمانو غولول دي؛ ان ويلی شو چې حاکمان د امريکا په فرمان دي او اړتيا نه لري چې وېې غولوي! امريکا په دغو ګامونو سره هڅه کوي چې د خلکو پر وړاندې خپل ځان د يهودي رژيم مخالف څرګند کړي!

**اې مسلمانانو!**

ريښتينی مصيبت د دغو حاکمانو شتون دی؛ چې د استعمارګرو کافرانو په ځانګړې توګه د امريکا غلامان دي... هر څه چې امريکا ووايي دوی هماغه وايي او هر څه چې هغه وغواړي دوی يې کوي... دغه حکام په خپلو سترګو د شهيدانو جسدونهويني؛ د ماشومانو چيغې اوري او له ښځو او ماشومانو سره د خلکو د بې‌ځايه کېدو بوړنوونکې صحنې ګوري؛ خو مرسته يې نه کوي... دا حاکمان ټول دا حالتونه ښه ويني او اوري؛ خو د معتصم ځوانمردي نه کوي!

دغو حاکمانو د پوځونو مخنيوی وکړ چې په غزه کې د خپلو ورونو مرستې ته ور نه شي. ان د پېښو ننداري ته کېناستل، شهيدان شمېري او په رسنيو کې شهيدانو ته «مړه» وايي؛ په خپل اند تر ټولو منځلاري يې هغه دي چې د يهودي رژيم او د غزې مسلمانانو تر منځ، چې پر هره لوېشت يې بريد شوی، منځګړيتوب کوي؛ ته به وايې چې هغوی د ملعون يهودي رژيم او د غزې د مسلمانانو تر منځ بې‌پرې لوری دی.

**اې د مسلمانانو د پوځونو سرتېرو!**

که تاسو د دې په تمه يئ چې حاکمان مو له يهودو سره د جګړې او مبارکې خاورې د ازادولو دستور درکړي، پوه شئ چې هغو کسانو ته ورته يئ چې اوبو ته يې لاس اوږده کړی خو اوبه نه وررسيږي...! نو خپله لاس په کار شئ، الله سبحانه و تعالی درسره دی او امت به ستاسو متابعت وکړي... له شک پرته چې تاسو ګورئ چې دښمن مو څنګه له وچې، سمندر او هوا څخه غزه بمباروي چې پر يوه سوې ځمکه يې بدله کړي؛ نو څنګه مو ورونه يوازې پرېږدئ او د جهاد او مبارزې په پرېښودلو سره د هغوی له مرستې لاس اخلئ!؟

**اې د مسلمانانو د پوځونو سرتېرو!**

آيا ستاسو تر منځ په ځانګړې توګه په کنانه او شام خاوره کې داسې غښتلی او هوښيار کس نشته چې د پوځ مشري وکړي او نور پوځونه يې په تکبيرونو متابعت وکړي او امت يې تر شا د الله سبحانه و تعالی د نصرت لپاره د الله اکبر نعره پورته کړي!؟

**﴿اِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَ الَّذِينَ ءَامَنُوا فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَ يَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَٰدُ﴾** [غافر: ۵۱]

**ژباړه:** *موږ قطعا خپلو پيغمبرانو او مومنانو ته په دنيا او پر هغه ورځ نصرت ورکوو چې شاهدان راپاڅېږي.*

**اې پوځونو!**

نور صبر خلاص دی او هېڅوک څه پلمه نه لري! نور پر خپلو دښمنانو د غوسې په سبب يوازې غاښونه مه چيچئ؛ بلکې بايد عملاً لاس په کار شئ او داسې شئ چې الله سبحانه و تعالی غواړي:

**﴿قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ﴾** [توبه: ۱۴]

**ژباړه:** *له دوی سره وجنګېږئ، چې الله يې ستاسې په لاسونو وربروي او رسوا يې کړي او تاسې پرې برياليي کړي او (په دې جګړې) د مومنانو زړونه يخ کړي.*

**حزب‌التحرير**

**۱۴۴۵هـ.ق کال د ذی‌القعدې ۵مه**

**۲۰۲۴م کال د مې ۱۳مه**